


# د باچاخان پوهنتون پېښه

شلمه جنوري زمونږ د تاریخ یوه بله توره ورځ ده. دا هغه غمژنه ورځ ده چې باچاخان پوهنتون پرې په سرو وینو سور شو. دویشت تازه ګلونه اورژېدل. نه صرف دویشت کورونه او کورنۍ په ویر اخته شوې بلکې په ټوله پښتونخوا د غم تور څادر خور شو. هر څوک حق حېران شول. هر چا یو بل ته کتل او یو بل سره ئې په سترګو سترګو کښې غم رازي کوله. هر یو زړۀ د بل زړۀ نه داسې خبر ؤ لکه چې د بل زړۀ هم د دۀ خپل زړۀ وي. په خوله د خبرو ضرورت پاتې نه ؤ. یوه خاموشي خوره وه. خو دې خاموشۍ کښې چې د یو بل دپاره کوم پېغام ؤ هغه د ابلاغ په یوه داسې ذریعه خور شو چې دنیا کښې ځانګړې ذریعه اوګرځېده.

ټول خلق پوهه دي. ټول پښتانۀ په دې ښۀ خبر دي چې د دوي دښمن څوک دے. د باچاخان پوهنتون د خونړۍ پېښې ذمه وار څوک دے؟ خو بیا هم هر څوک چپ دے. غلے دے خاموش دے ولې د دۀ د زړۀ نه دښمن هم خبر دے. دښمن ته پته ده چې پښتنو دے پېژندلے دے. دا هم د پښتنو د ازلي دښمن یو چال دے چې مړ هم دے کړي او پړ ئې هم کړي.

کله چې هم دا قسمه پېښه شوې ده نو سمدستي د خلقو خیال بل اړخ ته د اړولو کوشش او هڅه شوې ده. د دښمن ایجنټان هم په طاقتورو ځایونو موجود دي هغوي کوشش کوي چې د پښتون خلاف پښتون اودروي. پښتانۀ خپلو کښې لاس تر ګریوانه کړي. او دغه قسمه پېښې ته داسې رنګ ورکړي چې نظر په هغه ځائې ښخ نۀ شي د کوم ځائې نه چې په پښتون ګوزار کېږي بلکې یو کنیفیوژن پېدا شي.

باچاخان د امن اواز ؤ. هغۀ د عدم تشدد علمبردار ؤ. هغۀ د تعلیمي تحریکونو سرخیل ؤ. هغۀ تل دا خواهش لرلو چې د دۀ قوم دې د علم په

کالـو ښائسته شي او د دوي زړونه او ذهنونه دې د تـعـلـیـم پـه رڼـا مـنور شي. نو بیا چې د دۀ په نوم کـومــه یـونـیـورسټي جوړه ده. دا یونیورسټي دا دانـش ګاه ولې په وینو سرۀ شوه. ولې دا پوهنتون د داسې عـمل دپاره خوښ کړے شو؟ دا یو پوښتنه ده؟ باید چې د دې پوښتنې جواب مخې ته راشي.

## د خان عبدالولي خان د لسم تلين په مناسبت د اسفنديارولي خان پېغام ته يوه کتنه

د خـان عبـدالـولـي خان د لسم تلين د ورځې په مـناسبت د عوامي نیشنل پارټۍ صدر اسفندیار ولي خان په یو خصوصي پېغام کښې وئیلي دي دي چې نن ورځ زمونږ دپاره د دې لوظ د پخلي ورځ ده چې مونږ به د خدائې د مخلوق خدمت د خپل ژوند لازمي برخه جـوړوو. او د زور،ظـلـم،زیــاتـي،بې انصـافۍ او زیاتي خورګۍ خلاف به خپله مبارزه روانه ساتو. د امن، آزادۍ،ورورولۍ او مساواتو دپاره به خپلو کـوششـونـو ته دوام ورکوو. نن چې مونږ د کومې تـرهګـرۍ سـره مـخ یـو د دې نـه د ځان خلاصولو دپـاره بـه مـونږ تـه د خـان عبـدالـغفار خان اوخان عبدالولي خان په فکر عمل کول وي.

اسـفـنـدیـارولي خان ووئیل چې د عوامي نیشـنـل پارټۍ دې مشرانو د پردي جنګ نه د ځان سـنـډې تـه کـولـو تلقین کړے ؤ خو د بده مرغه په دې د عــمــل نه کولو په نتیجه کښې نن مونږ د دې پـه نـقـصـانـاتو کښې ښکیل شوي یو. د ګاونډي هېـوادونـو سـره د ښۀ تـعـلـقـاتو ضـرورت دے. اسـفندیار ولي خان زیاته کړه چې د پاکستان خلق پـاکسـتـان یـو حـقیـقي جمهوري ازاد او خپلواک مملکت لیدل غواړي.

کـه چـرې د مـحتـرم اسـفندیارولي خان د دغې خـصـوصـي پېغام جاج واخستے شي نو دا به مـونږ تـه د پـاکستان د خلقو په عمومي توګه او د پښـتنو په خصوصي توګه یو دروند اواز اوښکاري. مـحتـرم اسـفـنـدیـارولي خان چې خپل دې پېغام کښې د کـومـو خیـالاتـو ځـرګندونه کړې ده دا په اصـل کښې د هغه مسلو د هواري لاره ګودر ښائي کومې مسئلې چې نن قوم ته پېښې دي.

فـخرِ افغان باچاخان او خان عبدالولي خان چې فـریـب قریب د یوې صدۍ په موده کښې کوم سیـاست کړے ؤ په کومه لاره چې ئې تګ کړے ؤ او د قـوم او مـلت ئې کومه لارښودنه کړې وه هغه اوس هـم زمـونږ د سیـاسـي او ملي ترقۍ د لارې مثـال دے. دې مشـرانـو سیاست نه خو د کرسۍ د حـاصـلولو دپاره کړے ؤ او نه ئې د نوم ګټلو دپاره بـلکې د دوي د مبارزې مرام د قوم،وطن او د خلقو خدمت ؤ. د وطن آزادي او جمهوري حقونه ګټل د دوي د سیاست په مقاصدو کښې اولیت لرلو. او دا ځـکـه چې د آزادۍ،خپلواکۍ او جمهوري حقونو نـه بـغـېـر د قـوم د خوشحالۍ او سوکالۍ منزل ته

رسېدل ممکن نۀ وي.

محترم اسفنديارولي خان دې پېغام کښې د خپلو مشرانو د سياست،فکر او نظرياتو په اساس د خپل ګوند منشور وړاندې کړے دے. د کوم بنياد چې امن، آزادي،جمهوريت،انصاف او اولسي خپربښکړه ده. اسفنديار ولي خان د پاکستان خپلواکي بنيادي ضرورت ګڼي يعنې اسفنديارولي خان دا غواړي چې د پاکستان حکومت دې خپلې ټولې فېصلې د خارجه مداخلت نه بالاتر د خپلو قومي او اولسي مفاداتو په رڼا کښې کوي.

اسفنديارولي خان چې د ګاونډي هېوادونو سره د ښې اړيکو جوړولو کومه غوښتنه کړې ده دا يو داسې غوښتنه ده چې د ټول قوم اواز دے. د پاکستان خلقو ته نن دا احساس شوے دے چې دوي چې نن د کومو ستونزو مشکلاتو او د تکليفونو سره مخ دي. د دې يوه غټه وجه د ګاونډي هېوادونو سره د باوري تعلقاتو کمے دے. دغه نظريه او دغه سوچ د باچاخان او خان عبدالولي خان هم ؤ.

که چرې مونږ د موجوده کړکيچنو حالاتو جاج واخلو. ترهګري اوڅېړو، د ملک اقتصاد ته په تنقيدي نظر اوګورو، فرقه واريت او مذهبي انتها پسندۍ باندې په سړه سينه غور اوکړو نو مونږ ته به دا هر څه د تېرو ديرش څلوېښتو کالو په موده کښې د پاکستان د خارجه کړن لارې او ګاونډي هېوادونو سره د تعلقاتو تريخ انجام اوښکاري. کله چې د پاکستان مخکښينو حکومتونو او واکدارانو په دغه غير حقيقي کړن لاره عمل کولو نو باچاخان او خان عبدالولي خان مسلسل واکداران د دغه پاليسو د منفي نتيجو نه خبر ساتل. ولې دوي د دغه مشرانو په خبرو غوږونه نه ګرول. نن مونږ د هغه نتيجو سره مخ يو د کومو خطره چې باچاخان او خان عبدالولي خان د لرې نه ليدلې. که چرې اوس هم زمونږ واکداران د اسفنديارولي خان دغه خصوصي پېغام ته غوږ کېږدي او په دې عمل اوکړي نو دا به د ملک،قوم او عامو خلقو په ګټه وي.

## د افغان مهاجرينو مسئله

پاکستان کښې د افغان مهاجرينو په اړه يو ځل بيا د بيانونو لړۍ شروع شوې ده. د دې وجه دا ده چې د کومو بين المللي شرايطو د لاندې دا مهاجرين دلته استوګنه لري د هغې د ترمخه د دوي پاکستان کښې د پاتې کېدو موده ختمه شوې ده. او اوس به بيا د سره د ملګرو ملتونو د مهاجرينو د کمشن په خوښه د دوي دلته د پاتې کېدو نوې موده شروع کېږي. خبرونه دي چې وفاقي حکومت دې لړ کښې لګيا دے کاروائي کوي. نو بل طرف ته د باچاخان يونيورسټۍ د پېښې نه پس د پښتونخوا وزيراعلی لکه د نور کله په شان د افغان مهاجرينو خلاف بيانونه

ورکول شروع کړي دي. دے تل دا خبره کوي چې پښتونخوا کښې د ترهګرۍ د پېښو وجه دلته افغان مهاجرین دي. خو وفاقي وزیر لیفټننټ جنرل ریټائرډ عبدالقادر بلوچ څو څو ځله خپل دا خیال څرګند کړے دے چې دې لړ کښې د افغانستان مهاجرینو په حق له تراوسه څه ثبوت مخې ته نۀ دے راغلے. د دې نه علاوه تراوسه چې د ترهګرۍ څومره واقعات شوي دي دې کښې د افغان مهاجرینو نوم پولیسو یا قانون نافذ کوونکو نورو ادارو نۀ دے اخستے. معلومه نۀ ده چې محترم پرویز خټک په کوم بنیاد افغان مهاجرین په داسې جرمونو کښې ککړ ګڼي. البته دا کېدے شي چې افغان مهاجرین په ځینې اولسي یا معاشرتي جرمونو کښې ککړ وي. دې کښې د سمګلنګ غوندې جرم هم شامل دے. پاکستان کښې د افغان مهاجرینو ټوله شمېره څومره ده. د دې متعلق هم متضاد اندازې مخې ته راځي خو بیا هم دا تعداد په لکونو کښې دے.

پاکستان کښې چې کوم افغان مهاجرین موجود دي د دوي د مالي ضرورتونه د مهاجرینو دپاره د ملګرو ملتونو کمشن پوره کوي. خو دا خلق پاکستان ته ځکه راوړېدلي دي چې د پاکستان مخکښینو واکدارانو د دوي د راتګ ډاډګیرنه کوله. دوي سره ئې مالي مرستې کولې او د دوي واسله ورله او حربي روزنه هم په باقاعده ډول پاکستان کښې کېدله. او د روزلو او تربیت اخستو نه پس به دوي افغانستان ته د جنګ کولو دپاره په منظمه طریقه لېږلے کېدل. د دوي تعداد ډېر زیات ؤ. دوي پاکستان کښې او په خصوصي توګه پښتونخوا کښې په زور اوسېدل. د مقامي خلقو حقونه ئې وهل او ورسره ورسره په سیاست او اولسي جرمونو کښې هم ککړ وو. دې زمانه کښې یعنې د نولس سوه اویایم اتیایم۱۹۷۰،۸۰ په لسیزو کښې هم محترم پرویز خټک صېب په سیاست کښې موجود ؤ. دۀ هغه وخت د دې مهاجرینو مخالفت کله نه ؤ کړے. اوس د دې مهاجرینو پوزیشن بدل دے. که چرې دوي خپل وطن افغانستان ته ستانه شي نو دا څه بده خبره نۀ ده او نه دا مطالبه څۀ بې بنیاده ده ولې د دوي موجودګي او ترهګري خپلو کښې تړل د قوم او ملت نه لاره خطا کول دي.

د افغان مهاجرینو موجودګي دې وخت کښې دومره د تاوان خبره نۀ ده ځکه چې یو طرف ته د افغان مهاجرینو د مالي مرستې په لړ کښې کافي خارجه سکه د بهر نه د مهاجرینو دپاره د کمشن په لاره پاکستان ته راځي. بل طرف ته د دې مهاجرینو په زرګونو ځوانان په بهرنو هېوادونو کښې په روزګار کښې اخته دي او روزانه په کروړونو خارجه کرنسي د یورو، ډالرو، پونډونو، ریالونو او درهمونو په شکل کښې پاکستان ته راځي چې د پاکستان اقتصاد ته ئې یو اړم ورکړے دے. خو د دې هر څه نه علاوه

افغان مهاجرين پاکستان کښې د لاسو پښو په سخت محنت کښې اوس نهٔ دي اخته ځکه چې افغانستان کښې د روزګار اوس ډېرې موقعې دي چې د پاکستان هنرمند خواري کښ ئې هم ځان ته راښکلي دي. اوس افغان مهاجرينو ته په دې مد کښې دلته څه کشش نشته البته ډېرو افغان مهاجرينو پاکستان کښې په مجموعي توګه او پښتونخوا کښې په خصوصي توګه په مختلفو شعبو کښې د اربونو روپو سرمايه کاري کړې ده او دغې سرمايه کارۍ د پښتونخوا اقتصاد باندې مثبت اثرات اچولي دي. د دې سرمايه کارۍ زياته فائده د پښتونخوا خلقو ته په مختلفو طريقو رسي.

تجارتي هلو ځلو کښې د افغانانو کردار څه نوے نهٔ دے. د مرکزي آسيا او پېښور ترمېنځه تجارت د سوونو کلونو راهسې راروان دے او دې کښې د پېښور د تاجرانو سره د افغانستان تاجران په خصوصي توګه کوچيان اهم کردار ادا کوي. که چرې هغه افغان مهاجرين چې دلته ئې سرمايه کاري کړې ده په يوه يا بله بهانه تنګ کړے شول نو دوي به د دې ځائې د بازارونو نه خپله سرمايه ويستو ته مجبوره شي. دا به د پاکستان خصوصاً د پښتونخوا په معيشت منفي اثرات اوغورزوي. نو ځکه بايد چې د سرمايه کارو مهاجرو ډاډګيرنه اوشي او دې لړ کښې داسې څه قدم پورته نهٔ شي چې د هغې نه د پاکستان اقتصاد ته تاوان اورسي او د پاکستان او افغانستان دواړو هېوادونو په تعلقاتو ترې هم خراب اثرات پريوځي. دې لړ کښې که د تاريخي او جغرافيائي حقيقتونو نه استفاده وشي نو دا به ګټورې نتيجې ورکړي.

دې سره سره بايد چې د افغانستان په داخل کښې داسې حالات پېدا کړے شي چې دغه افغان مهاجرين په خپله رضا خپل وطن ته ستانه شي. خو د دې نه مخکښې بايد چې د افغان مهاجرينو پاکستان کښې پاتې کېدو ته قانوني شکل ورکړے شي او د افغانستان او پاکستان خلقو د يو بل ملک ته تګ راتګ د يو کوټلي نظام لاندې اسان کړے شي چې دغه شان دَ غير قانوني تګ راتګ ضرورت پاتې نهٔ شي. دې لړ کښې هم تاريخ او روايات تر نظره ساتلو سره دا مسئله په اسانه هوارېدے شي.

# د منځني ختيز شخړې

د څه مودې راهسې د منځني ختيز (Middle East) هېوادونه مختلفو شخړو کښې ګېر دي. د شام (Syria) حالات انتها ته رسېدلي دي او دې هېواد کښې څلور قوتونه خپلو کښې په تود جنګ کښې اخته دي. عراق کښې حالات لا معمول ته نهٔ دي راغلي. د سعودي عربستان او يمن مسئلې د سيمې حالات نور کړکيچن کړي دي. د رنګ رنګ مسئلو د هواري

لا څه آثار نۀ ښکارېدل چې سعودي عربستان او ایران یو بل ته نېغ په نېغه پتونونه اوهل. حالانکې د منځني ختيز د ټولو حالاتو شاته هم دغه دوه ملکونه د مخکښې نه موجود وو. په یو بل به ئې تورونه پورې کول خو دواړو نېغ په نېغه یو بل ته د مخامخ کېدو نه ډډه کوله.

امریکه،روس او ترکي هم د منځني ختيز (Middle East) د سیاست نه لا تعلقه نۀ دے. دې سیمه کښې د دې درې واړو هېوادونو اثرات موجود دي. دا ملکونه هم د **Proxi War** په شکل کښې په جنګ کښې اړم دي. اسرائیل هم دې سیمه کښې موجود دے او کوشش ئې دے چې سیمه کښې بل شوي اُور ته لمن اوهي او دا اُور نور غرغنده کړي ځکه چې د منځني ختيز ټول عربي هېوادونه د اسرائیلو خلاف دي او چې اسرائیل د دې موقعې نه نن فائده اوچته نۀ کړي نو بیا ئې نۀ شي کولے. که چرې مونږ د دې سیمې په تاریخ رڼا واچوو نو دا سیمه تل ناقراره ښکاري. او د دې وجه د دې سیمې خلق په خپله دي. دې سیمه کښې د ایران او عربو رقابتونه د صدیو راهسې راروان دي. دغه رقابتونو دغه سیمه په شیعه او سني کښې هم اویشله چې ئې په ټوله اسلامي نړۍ پریوتے دے.

نن د سعودي عربستان بادشاهت یو طرف ته ځان د عربي دنیا مشر ګڼي او بل طرف په اسلام نړۍ هم د خپلې مشرۍ د حق دعوی لري ځکه چې د مسلمانانو دوه اهم مرکزونه د دې بادشاهت د انتظام لاندې دي خو نۀ ورسره ایران دا مني او نۀ ترکي. ترکي ځان د دې سیمې پخوانے واکدار ګڼي نو په دې اساس د خپلې موجودګۍ د حق دعویدار دے. چونکې امریکا دې سیمه کښې د بادشاهاتونو پلوي کوي او په دې اساس خپل اثر و رسوخ په ځائې ساتل غواړي نو روس د امریکې مقابلې ته هر وخت ملا تړلے ولاړ دے. منځني ختيز کښې چې کوم فکري تضادات دي. دې تضاداتو دې جنګونو ته یو بنسټ او بنیاد ورکړے دے.

منځني ختيز کښې عربي قام پروري (Nationalism) د یو قوت په حیث موجود دے او ورسره ورسره بادشاهاتونه هم خپل وجود لري. بادشاهتونو ته د عربي نیشنلزم نه زبردسته خطره ده نو ځکه دغه بادشاهتونو د امریکې لمن نیولې ده. او عربي نیشنلزم مجبور دے چې د روس نه مدد واخلي. خو د بده مرغه د عربي نیشنلزم مشري د آمرانو په لاسونو کښې ده او عرب اوس دنیا کښې د جمهوري نظامونو نه اثرات اخستو نه څوک نه شي منع کولے. دا تضادات دومره زیات شوي دي چې في الحال ئې د ختمېدو څه نخښې نښانې نۀ ښکاري خو خپل منطقي نتیجو ته به ارو مرو څه موده پس رسي. داسې بریښي چې بادشاهتونه او امریتونه دواړه په سلګو دي. خو

ځنکندن ئې اوږد ښکاري. کټې به شي چې اوښ په کوم اړخ سملي خو اوښ ته به هدايت غټ نړيوال طاقتونه ورکوي.

پــه داسې کړکيـچن صورت حـال کښې د پـاکستــان ساده خـلقو ميا نوازشريف ته مشوره ورکړه چې د سـعـودي عربستان او ايران ترمېنځه ثالثي اوکړي. نوازشريف صېب د دواړو هېوادونو دوره اوکړه. ايران خو د خپلې رواياتي ډپلوميسي نه کار واخستو ولې سعودي عربستان د څه قسمه ثـالثۍ قبـلـولـو نــه چورلټ انکار وکړو. سعودي بـادشـاهت د رواياتي غرور په اساس سعودي عربو کښې اخته په لکونو پاکستانيانو مزدورانو ته خو ګـوري ولې د پــاکستـــان مـضبـوط فوځ، ايټمي صلاحيت،پياوړے،زراعت،صنعتونه،ټيکنالوجي او د صـحـت پــه مــد کښې تـجـربه کار ډاکټران په خــاطــر کښې نـــه راولـي. سـعـودي عـربسـتـان حکمرانان په پېسو اخستل غواړي او د ريالونو په زور مسـلـمان ملکونو کښې مذهبي مشران پاللو ته سفارت کاري وائي.

د منځني ختيز حالاتو په خصوصي توګه د ايــران او سـعـودي عـــربستــان تـرمېنځـه شخړې پـاکستــان په يو امتحان کښې ځکه اچولے دے چې دواړه هېــوادونه پاکستان کښې اثر او رسوخ لري او دا غـلـطي د پاکستان د تخيلاتي او غير ذمه وارانه خـارجـه پـاليسۍ مـنطقي نتيـجـه ده. دې حالاتو کښې پـاکستــان سـره بـله لاره نشته چې د دواړو مـلـکـونـو نه تر ځۀ حده ځان راونغاړي. که داسې سل په سل نه شي کېدے نو د اعتدال لاره خپلولو کښې د پاکستان بهتري ده.

د ايران او سعودي تعلقاتو کښې پاکستان څـومـره کـردار لوبولے شي دا به ميا نوازشريف ته مـعـلـومه شوې وي. بايد چې ميا صېب دا حقيقت اومني چې ايران او سعودي دوه شخصيتونه نه دي بـلـکې دوه هېوادونه دي. دوه حريف قومونه دي. د دواړو تـرمېـنځـه نېـغ په نېغه جنګ نه خو دواړه هېوادونه منع کېدے شي خو منځني ختيز کښې د دواړو بـراکسـي جنګ او رقابتونه به هم دغه شان مـوجـود وي. کـــه هـــر څـومـــره دې سيمـه کښې جغرافيائي او سياسي بدلونونه هم راشي.

## د افغانستان د حکومت افغان طالبانو سره مذاکرات

د تېـرو څـو مياشتو نه چې د چين،امريکې او پـاکستان په مرسته د افغانستان د حکومت او طالبانو تـرمېـنځه چې د خبرو اترو کومه لړۍ شروع شوې ده هـغه د مري د مذاکراتو نه پس اوشلېده او په مخکښې لانـــه ړه. چيــن او امـريـکـــه دواړه غـرضـي دي چې افــغـــانستـــان کښې روان جـنګ سـرتــه اورسـي. د افـغـانستان حکومت دې ته تيار دے خو د پاکستان د مـدد نــه بـغېـر ور تـه دا وړۍ شړۍ کېدل ځکـه نـه

ښکاري چې د دوي په خيال په افغان طالبانو د پاکستان اثرات دي. پاکستان هم څو څو ځله وئيلې دي چې بغېر د پاکستان اعتماد کښې اخستو نه افغانستان کښې قلارے نه شي راتلې.

افغانستان کښې که طالبان زيات سياسي مقبوليت نۀ لري ولې دا يو مضبوط عسکري قوت ضرور دے او د افغانستان حکومت ته هر وخت مشکلات جوړولې شي. افغانستان دومره توان نۀ لري چې د طالبانو د ګوريلا عملياتو مخخ نيوے وکړے شي بلکې د دنيا يو حکومت هم د ملک دننه د دغسې عسکري فعاليتونو مخ نيوي کښې ډېرو مشکلاتو سره مخ وي. پاکستان د مضبوط فوځي صلاحيتونو لرلو باوجود د څو کالو راهسې د ګوريلا عملياتو او ترهګرۍ خلاف بوختو کښې ښتے دے نو د افغانستان نوي او کم تربيت يافته فوځ به د دې مقابلې ته څنګه دوام ورکړے شي.

که چرې افغان حکومت طالبانو سره مذاکراتو ته کيناستو او دا مذاکرات کامياب شي نو دا به د افغان ملت ډېره لويه ګټه وي. خو د بده مرغه نن افغان طالبان هم په يوه صفحه نۀ دي. د دوي غټې برخې د نړي وال عسکري قوتونو برخه جوړه شوې ده او کوم چې پاتې دي خبري هغوي سره کېدے شي. دلته دا حقيقت تر نظره ساتل ضروري دي چې کله دوه فريقه د مذاکراتو د لارې خپل اختلافات ختمول غواړي نو هغوي دواړه به يو بل ته څه ورکوي يعنې مذاکرات د ورکړې راکړې په اساس مثبت نتيجې ورکولے شي. که چرې افغان حکومت د طالبانو هغه برخې سره مذاکراتو ته کيني کومه برخه چې مذاکراتو ته تياره ده نو دا څه بده خبره نۀ ده. که تاريخ مطالعه شي نو داسې په داسې حالاتو کښې همېشه شوي دي.

بله دا چې پاکستان په تکرار سره دا وائي چې د پاکستان امن د افغانستان د امن سره تړلے دے نو د دغې جذبې او دغه احساس لاندې بايد چې افغانستان او پاکستان د باور په اساس يو بل سره دې لږ کښې د زړۀ د اخلاصه مرسته ملګرتيا اوکړي. دې سلسله کښې چې څومره زر کېدے شي مخ په وړاندې تګ ضروري دے. که چرې پاکستان او افغانستان په يو بل باور اوکړي او کومه مسئله چې دواړو هېوادونو ته پېښه ده د دې بنياد يو اوګڼي نو دواړو ملکونو کښې په يوه ورځ امن او قلارے راتللے شي. نه به چين ته ضرورت وي او نه امريکې ته.

## په باچاخان پوهنتون د حملې ذمه وار څوک؟

د پښتونخوا حکومت يو انتظامي تحقيقاتي کميټۍ د باچاخان پوهنتون د پېښې ذمه وار د يونيورسټۍ وائس چانسلر او د سيکورټي انچارج ګرځولے دے. دا کميټي صوبائي حکومت د دريو انتظامي افسرانو د غړيتوب په بنياد جوړه کړې وه. عجيبه خبره دا ده چې د کميټۍ ممبران هغه کسان وو

کوم چې په خپله د امن او امان ذمه وار دي. یعنې د کميټۍ ممبرانو کښې د پېښور کمشنر، د پوليسو د متعلقه رينج ډپټي انسپکټر جنرل او د آعلی تعليم سکټر ؤ. د دې نه مخکښې عامه غوښتنه دا وه چې د پېښې ذمه وار په ګوته کولو دپاره دې يو عدالتي کمشن جوړ کړے ش. خو حکومت يو انتظامي کميټي جوړه کړه چا چې د خپلې ذمه وارۍ په بل ور اوتپلې.

که چرې د تعليم،صحت،زراعت او نورې ټولې ادارې او شعبې د خپل حفاظت په خپله ذمه وارې دي نو بيا چې په جي ايچ کيو کومه حمله شوې وه نو د هغې ذمه وار د هغه وخت چيف آف آرمي سټاف ولې نۀ ؤ؟ د پېښور هائي کورټ باندې د حملې ذمه وار چيف جسټس ولې نۀ ؤ؟ د آئي. ايس. آئي او نورو ادارو په دفترونو د حملو ذمه واري د هغه دفترونو په مشرانو ولې نۀ وه! په آرمي پبلک سکول د حملې ذمه واره د سکول پرنسپله ولې نۀ وه؟ دغسې نورې ډېرې واقعې شوي دي چې پکښې په پېښور ائيرپورټ حمله، د بحريې او ائير فورس په اهمو تنصيباتو حملې شاملې دي. د پوليسو په چوکو حملې شوي دي. خو چا هم د دې حملو ذمه وار د دغه شعبو مشران نۀ دي ګرځولي. ولې د يوې تعليمي ادارې مشر د ترهګرۍ د حملې ذمه وار ګرځولے شوے دے.

د کميټۍ دا رپورټ افسوس ناک نۀ بلکې شرمناک دے. ځکه چې د تعليمي ادارو د حفاظت ذمه وار پوليس او ضلعي انتظاميه ده. سبا خو که د چا په کور حمله اوشوه نو د پوليسو مشران به د کور خاوندان د حملې ذمه وار ګرځوي او خپله به سپين بازونه ګرځي. که داسې وي نو بيا د پوليسو او ضلعي انتظاميې څه کار دے؟ تر څو چې د تعليمي ادارو او نورو حکومتي ادارو د حفاظت تعلق دے نو تر څۀ حده د ادارې ذمه واري ده ولې ترهګري دومره په مهارت سره کېږي چې د فوځ اداره او پوليس تر محفوظ نۀ دي نو تعليمي اداره به خپل ځان څنګه بچ اوساتي.

که چرې حکومت غواړي چې دا ادارې دې خپل حفاظتي انتظامات خپله اوکړي نو بايد چې دې دپاره حکومت جدا بجټ منظور کړي. قانون سازي اوشي او د تعليمي ادارو د حفاظت دپاره يو جدا حفاظتي فورس جوړ شي. پېښور يونيورسټۍ کښې باقاعده پوليس موجود دے. او د يونيورسټۍ د ټول کيمپس حفاظت کول د دغه پوليسو ذمه واري ده نو بيا داسې سهولت باچاخان يونيورسټۍ او نورو يونيورسټيو ته ولې نۀ دے حاصل؟

تعليمي ادارې د تعليم دپاره وي د جنګ دپاره نۀ وي. د ملک او د خلقو د حفاظت دپاره په وفاقي او صوبائي سطحو د فوځ او پوليسو ادارې جوړې شوې دي چې د قومي بجټ زياته نه زياته برخه په دوي لګولے شي. بايد چې دوي خپلې ذمه وارۍ پوره کړي. په ملک کښې يو جنګ روان دے او جنګ وسله والې ادارې کوي. بايد چې ټولې فوځي،نيم فوځي او سول وسله والې ادارې د خلقو حفاظت يقيني کړي.